# هغه دی یاد دي ؟

وربل کـي دي چي ګل مي ایښودل هغه  دی یاد دي
په زلفو دی چي لاس  مي کښول  هغه  دی یاد دي
ځوانـي وه ستا د  مینـي په آبا سین  کـي  اوم لاهو
یو بل ته  چي  په  مینه  مو  کتل هغه دی یاد دي
د ستا د مخ  هنداره کی چي  ځا ن  مي خپل لیدل
تماس کـی دی چي ځان مي تخنیدل هغه دی یاد دي
هیڅوخت  مي  ستا  په مینه  کـي  کمـي نه دي کړي
بیلتون کی تا پسی چي «مل» ژړل هغه دی یاد دي

****

پوهندوی دوکتور سید حسام «مل»

جرمنـی «2022-09-21»